د افغانستان بانک

(بانک مرکزی)

# کلنی – راپور – سالانه

# ۱۳۸۸

www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک

(بانک مرکزی)

# ۱۳۸۸

## کلنی راپور

دافغانستان بانک کلنی راپور

د اسنادو او لړیکو عمومي آمریت

د لړیکو او څېړونو مدیریت

چمتو کونکی: سید اسحاق علوي د پولي سیاست مرستیال

ژباړه: عین الله عیان

ایډیټر: محمد شریف رشید د لړیکو او اسنادو مرستیال

عکس: زیرک ملیا

ډیزاین: یما عفیف او عبدالقیوم رووف ارغند

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل – افغانستان

تلفن: ۲۱۰۳۸۱۵ -۲۱۰۴۳۶۱ -۰۲۰

بریښنا لیک: info@centralbank.gov.af

ویب پاڼه: www.centralbank.gov.af

# د افغانستان بانک

## عامل پلاوی



عبدالقدیر فطرت

د افغانستان بانک د ټولو رییس



الحاج محب الله صافی

د افغانستان بانک لومړی مرستیال



الحاج محمد عیسی طراب

د افغانستان بانک دویم مرستیال

## د مطالبو لړلیک


د افغانستان بانک د ټولو رئیس پیغام ........ الف
سریزه ........ ج
د پولي سیاست لاسته راوړنې ........ ۱
په ۱۳۸۸ کال د نقدینه ګۍ (سیالیت) څرنګوالی ........ ۱
د احتیاطي پیسو کچه ........ ۳
د نقدینه ګۍ د مهارولو لپاره د مرکزي بانک ابزارونه ........ ۴
په ګردښت کې د پیسو کنټرول ........ ۴
د احتیاطي پیسو کنټرول ........ ۴
اقتصادي وده ........ ۴
پولي تورم(پړسوب) ........ ۵
د افغانۍ د مبادلې نرخ ........ ۷
د پولي سیاست په پلي کولو کې د مرکزي بانک پر وړاندې مهمې ننګونې ........ ۸
د مالي نظام پراختیا او پرمختیا ........ ۹
د افغانستان د بانکي نظام اوسنی بنه ........ ۹
پور ته د لاس رسی له مخې په نړیوال کتار کې د افغانستان د مقام لوړوالی ........ ۱۱
د بانکي نظام پراختیا د دندې د برابرونې زمینه ........ ۱۱
د بانکي سیستم شتمنی ........ ۱۱
پانګه ........ ۱۳
د بانکي سیستم پورونه ........ ۱۳
د بانکي سیستم امانات ........ ۱۵
د بانکي نظام ګټه او فایده ........ ۱۶
د بازار عملیات کړنې ........ ۱۷
د افغانستان بانک اسعاري زیرمې ........ ۱۷
د بیه لرونکو پاڼو پلورل(لیلام) ........ ۱۸
د بهرنیو اسعارو پلورل ........ ۱۸
لنډ مهاله اعتباري او د امانت ایښودنې اسانتیاوې ........ ۱۹
د بهرنیو زیرمو د پانګې اچونې له لارې د مرکزي بانک ګټه ........ ۱۹
د تادیاتو نظام ........ ۲۰
د ACSS سیستم په کارونې سره د بانکونو تر منځ معاملات ........ ۲۱
د AFTS سیستم په کارونې سره له ولایاتو څخه مرکز او بر عکس معاملات ........ ۲۱
د AFTS سیستم په کارونې سره له ولایاتو څخه ولایاتو(له نمایندګی- نمایندګی ته) معاملات ........ ۲۲
د تلګرام څانګه ........ ۲۲
**مالي صورت حساب** ........ ۲۳
بیلانس شیټ ........ ۲۳
د عوایدو صورت حساب ........ ۲۴
**اداره او پراختیا** ........ ۲۵
د حقوقي مشاوریت دفتر ........ ۲۵
د بشري منابع عمومي آمریت ........ ۲۵
د خدماتو عمومي مدیریت ........ ۲۶

## د افغانستان بانک د لوی رئیس پیغام



د خوښۍ او وياړ ځای دی، چې د افغانستان بانک د عالي شورا، مشرتابه پلاوي، مديرانو، کار پوهانو او کارکوونکو په استازيتوب په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د مرکزي بانک د کړنو او لاسته راوړنو نچوړ د افغانستان ملت ته وړاندې کوم. د افغانستان بانک په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د خپلو اصلي او محوري موخو د پلي کولو لپاره مهم او لوی ګامونه پورته کړي دي او په دې برخه کې لويې لاسته راوړنې درلودلې دي.

مرکزي بانک په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د هېواد د پولي سياست د متولي، طرحه کوونکي او مجري په توګه توانېدلی چې د معقولو پولي او مالي سياستونو په تدوين او پلي کولو سره د ناخالصه حقيقي کورني توليداتو د ۲۲ سلنې ودې د حمايې لپاره مستعدې او مناسبې زمينې ايجادې کړي.

همدا ډول مرکزي بانک، د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال په اوږدو کې د خپل لومړي هدف د تامينولو په موخه يعني د کورنيو قيمتونو د ثبات خوندي ساتلو لپاره د قيمتونو ديناميزم په څېرتيا سره تر نظر لاندې درلودلی او په دې توانېدلی دی چې په هېواد کې د معقولو او منظمو سياستونو په رڼا کې د بيو د عمومي کچې له زياتوالي څخه مخنيوی وکړي او کورني مصرفوونکي او توليدوونکي د تورم د خرابو پايلو له زيانه خوندي وساتي. همدا ډول د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال په پيل کې د ديفلاسيون پديدې يا د بيو ټيټوالی او د کال په نيمايي کې يې شدت او د هېواد پر توليدي سکتور د بيو د ټيټوالي د ناوړه پايلو له کبله، مرکزي بانک دکال په پای کې لازم او معتدل سياستونه تر لاس لاندې ونيول تر څو په هېواد کې د قيمتونو د ټيټوالي بهير سوکه کړي.

د ملي پيسو يعنې افغانيو څخه د ګټې اخيستنې د دود په برخه کې د مرکزي بانک د اعتماد وړ سياستونو پلي کول او اقدامات د بهرنيو اسعارو په وړاندې د افغانۍ پيسو د ثبات او برابرۍ لامل شوی او دا کار په افغانۍ باندې د هېوادوالو د ډاډ او اعتماد سره سم د افغانيو لپاره د خلکو د تقاضا کچه هم لوړه کړې ده. له افغانۍ څخه په معاملاتو کې د خلکو د پام وړ استفاده او په ورته وخت کې د ارزښت د زيرمې په توګه کار اخيستل او ودې تر څنګ د ايتلافي ځواکونو د لګښتونو د تمويل لپاره د بهرنيو اسعارو راتګ او طبيعي زيرمو او کانونو د کشف په اړه خپاره شوي خبرونه د دې لامل شوي دي چې د افغانۍ مبادلوي نرخ د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال د وري مياشت کې چې د يو ډالر په وړاندې شاوخوا ۵۱،۷۶ افغانۍ ؤ، د کال په پای کې د ۶،۳ سلنې زياتوالي سره ۴۸،۴۸ افغانيو ته ورسيږي. سره له دې، له هغه ځايه چې د واقعي موثرو اسعارو د نرخ شاخص د افغانستان سره د مهمو سوداګريزو هېوادنو د اسعارو په وړاندې زيات شوی نه دی، نو له افغانستان څخه بهر د افغاني توکو صادرونکو د سيالۍ د ټيټوالي په هکله اندېښنې ته ځای نه پاتې کيږي.

د مالي نظام د پراختيا او پرمختيا لپاره د مرکزي بانک هڅه، مديريت، څارنه او امکانات په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د افغانستان لپاره لويې لاسته راوړنې په برخه کړي. د پور د لاسرسي د شاخص په اړه د نړيوال بانک د خپور شوي راپور له مخې افغانستان په کال ۱۳۸۸ کې ۵۳ ګامه مخې ته راغلی او د نړۍ د ۱۸۰ هېوادونو په منځ کې ۱۲۷ مقام ته لوړ شوی دی.

په ۱۳۸۸ کال کې د افغانستان مالي نظام او بانکي سکتور د کمي او کيفي پلوه د بانکي خدماتو او اسانتياوو په برخه کې ښې ساري وده درلوده. د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د بانکي اسانتياوو شمېر په ټول هېواد کې تقريباً دوه برابره شوی چې دا شمېر د ۱۳۸۷ کال د کب له مياشتې ۲۵۴ څخه د ۱۳۸۸ کال تر پای پورې ۴۴۵ ته زيات شوی دی. د بانکي نظام شتمنۍ د ۱۳۸۷ هجري لمريز کال کې له ۱۴۵ ملیارده افغانۍ څخه د ۲۵ سلنې سره ۱۸۱ ملیارده افغانيو ته رسيږي. د بانکي سکتور ټوليزه پانګه د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال په پای کې ۲۲،۵ ملیارده افغانۍ(۴۸۰ مليونه ډالره) راپور ورکړل شوی دی. دا شمېره د تير

کال په پرتله ۱۸،۰۳ سلنه وده ښکاره کوي. د ۱۳۸۸ هجری لمریز کال د کب میاشت کې د بانکي سکتور ټولیزه پورونه شه باندې ۶۶،۴۹ ملیارده افغانی( شاوخوا ۱،۴۲ ملیارده امریکایي ډالره) ؤ چې د تیر کال د کب له میاشتې څخه ۲۷،۵۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

د بانکي سیستم امانات په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د پام وړ وده ثبت کړې. په همدې کال کې اماناتو ۲۷،۳۳ سلنه وده درلودله او د ۱۳۸۸ کال په پای کې شاوخوا ۱۴۹ ملیارده افغانی ( ۳،۱۹ ملیارده ډالره) ښودل شوې ده.

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د اماناتو کچه په افغانیو، په سلو کې ۴۸،۳۳ ودې سره د ټولیزه اماناتو ۳۰،۶۷ سلنه جوړوله چې ۴۸،۶۲ ملیارده افغانی ( ۱،۰۴ ملیارده ډالره) کېږي او ډالري امانات د ټولیزه اماناتو ۶۰،۰۶ سلنه جوړوله چې ۹۵،۲۱ ملیارده افغانی(۲،۰۳ ملیارده ډالره ) کیږي.

د هېواد د نړیوالو مبادلاتو د پشتوانې په توګه د افغانستان د اسعاري زیرمو د دوامدارې ودې سره دې شاخص د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې ۴،۲۱۸ ملیارده امریکایي ډالرو ته زیاتوالی موندلی دی. دا شمېره د ۱۳۸۷ کال د کب په دېرشمه ۳،۶۳۷ ملیارده امریکایي ډالره ښودل شوې وه.

همدارنګه د تادیاتي نظام د سیلستیا او اغیزناکتیا په برخه کې د مرکزي بانک هڅې او اقدامات زمونږ هېوادوالو ته په نړیواله او کورنی مالي مبادلاتو کې ډېرې اسانتیاوې ور په برخه کړي دي. د افغانستان بانک د دې خدماتو او لاسته راوړنو تر څنګ د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په اوږدو کې د بانکي خدماتو د عصري کولو، د کارکوونکو د ظرفیت پراختیا او لوړوالی او د هېواد د مالي سکتور د لا عصري کولو لپاره د حقوقي او قانوني پیاوړې اډانې د جوړونې بهیر ته ادامه ورکړې ده چې لویې او د پام وړ لاسته راوړنې درلودلې دي.

بې له شکه دا لاسته راوړنې د مرکزي بانک د مدیرانو، کار پوهانو او کارکونکو د هڅو، کوښښونو او جدیتونو څخه پرته ناشونې دی. له همدې امله د فرصت څخه په استفادې سره د هر یو له هلو ځلو څخه قدردانی او د زړه له کومې مننه کوم او هیله لرم چې هلو ځلو، هڅو، جدیتونو او کړنو تر سیوري لاندې د افغانستان بانک د هېواد د یو اغیزناکې او مهمې اداري په توګه وکولای شي، د هېواد د اقتصادي ودې، پراختیا، پرمختګ او پرمختیا لپاره د یوه روښانه راتلونکې او سالم چاپیریال په برابرونه او له مزمنې بې وزلی، محرومیت او وروسته پاتې کېدنې څخه د خلکو په خلاصون کې وړ رول ولوبوي.

**عبدالقدیر فطرت**

**د افغانستان بانک د ټولو رئیس**

# سریزه

د هرې ټولنې وده او پرمختګ د موجوده شرایطو ثبات د راتلونکي په اړه ډاډمن لید لوري ته اړتیا لري. بې ثباتي او حاد او شدید نوسانات د بې اعتمادئ او د نا ډاډمنتیا لامل کیږي. د اقتصاد په ډګر کې د اقتصادي بدلونونو او متحولینو ټیکاو د اقتصادي ودې او پرمختګ او د تولیدي چارو د دوام لپاره مخکښنی شرط ګڼل کیږي. د توکو او خدماتو د بیو کچه یو له مهمو اقتصادي متحولینو څخه ګڼل کیږي. د هېواد دننه د بیو د ثبات ساتلو مسؤولیت د افغانستان بانک ته سپارل شوی دی.

د سیالیت (نقدینه ګی) خوندیتوب، د پور د ورکړې ورتیا، د بازار اقتصاد په اډانه کې د سالم او با ثباته مالي نظام د پراختیا او پرمختیا لپاره د ور چاپیریال رامنځته کول د مرکزي بانک له ثانوي موخو او د مرکزي بانک د اصلي موخې د تامینولو لپاره معرفی شوي دي.

د افغانستان بانک د ټولو برخو د فعالیتونو کاري پلان د دې رسالت د تحقق په لاره کې او د مرکزي بانک د پنځه کلنې کړنلارې په اډانه کې او د افغانستان د ملي انکشافي کړنلارې سره سم د لومړیتوبونو د تفکیک او تعینېدو په پام کې نیولو سره طرحه، ترتیب او تطبیقیږي. د کاري پلان د طرحه کولو او تدوین سره سم، د فعالیتونو د پرمختګ د څرنګوالي په اړه د دوامدارې ارزونې، څارنې او نظارت لپاره داخلي میکانیزم او شاخصونه هم څرګند او تر پام لاندې نیول شوي دي.

دا راپور چې په شپږو څپرکو کې تنظیم شوی، د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په اوږدو کې د مرکزي بانک د کړنو شرحه او لاسته راوړنې وړاندې کوي:

لومړی څپرکی: د هېواد د پولي سیاست په برخه کې د مرکزي بانک لاسته راوړنې او کړنې وړاندې کوي.

دویم څپرکی: د مالي نظام د پراختیا او پیاوړتیا په برخه کې د مرکزي بانک کړنې او لاسته راوړنې او اړونده شاخصونه رانغاړي.

دریم څپرکی: د پولي سیاست اجرایي اړخ یا د مرکزي بانک بازار عملیات او د هېواد د اسعاري زیرمو د مدیریت اړوند اقدامات تر پوښښ لاندې نیسي.

څلورم څپرکی: د هېواد د تادیاتي نظام په برخه کې د مرکزي بانک اقدامات او کړنې رانغاړي.

پنځم څپرکی: د افغانستان بانک بیلانس شیټ او د ګټې او تاوان صورت حساب ښکاره کوي.

شپږم څپرکی: د افغانستان بانک اداري پراختیا او وده ښکاره کوي.



# د پولي سیاست لاسته راوړنې

په ۱۳۸۸ کال کې د نقدینه ګۍ (سیالیت) څرنګوالی

د احتیاطي پیسو کچه

د نقدینه ګۍ د کنټرول لپاره د مرکزي بانک ابزارونه

اقتصادي وده

پولي تورم

د افغانۍ د مبادلې نرخ

د پولي سیاست په پلي کولو کې د مرکزي بانک پر وړاندې مهمې ننګونې

# د پولي سیاست لاسته راوړنې

د اقتصاد له عمدوو بدلونونو څخه یو یې هم په یو اقتصاد کې د بیو کچه ده. په قیمتونو کې عمده بدلونونه او نوسانات ژورې او عمیقې پایلې لري، نو له همدې امله د افغانستان بانک قانون د قیمتونو ثبات د مرکزي بانک د لومړي او اصلي رسالت او مسؤلیت په توګه معرفي کوي.

د افغانستان بانک دې هدف ته د رسېدو په موخه خاص تدبیرونه او میکانیزمونه تر لاس لاندې نیولي. دا تدبیرونه او میکانیزمونه چې د قیمتونو د ټیکاو په موخه نیول کېږي، پولي سیاست نومول کېږي. پولي سیاست په ټولیزه توګه هغه اقدامات دي چې په کارونې سره یې د پیسو د عرضې کچه او د پیسو لپاره د تقاضا ترمنځ توازن او تعادل — او له دې لارې د بیو د سطحې ثبات او د نقدینه ګۍ (سیالیت) کنټرول د هېواد له اقتصادي ودې سره لاسته راځي. پولي سیاست د اقتصادي کړنو لپاره د ښه چاپیریال په برابرونه کې بنسټیز رول لري. په افغانستان کې هم د نورو هېوادونو په شان د پولي سیاست د مطالعې او پلي کولو مسؤلیت د مرکزي بانک په غاړه دی.

مرکزي بانک له ژورې پراخې او هر اړخیزې مطالعې، تحلیل او څېړنې څخه وروسته د هېواد له شرایطو او اقتصادي بدلونونو سره سم وړ او معقول پولي سیاست طرحه او ترتیبوي او بیا یې له ځانګړې او دودیزه ابزارو څخه په ګټې اخیستنې سره پلي کوي. هغه څه چې په دې برخه کې راغلي، د ۱۳۸۸ هجرۍ لمریز کال په اوږدو کې د هېواد د پولي سیاست لاسته راوړنې په اجمالي توګه وړاندې کوي.

د بیو د عمومي سطحې نوسانات او بې ثباتي د یو هېواد پر اقتصاد او هېوادوالو ویجاړونکې اغېزه او خرابې پایلې لري. د موجوده اقتصادي نظریاتو پر بنسټ د قیمتونو د عمومي کچې د تقاضا په نسبت او د پیسو د عرضې زیاتوالی دی. په بله وینا د تولنې په کچه د پیسو د حجم زیاتوالي(د نقدینه ګۍ زیاتولې) د پیسو د ارزښت د کمښت او په پایله کې په یو اقتصاد کې د توکو او خدماتو د قیمتونو د زیاتېدو لامل کېږي.

له دې امله مرکزي بانک د هېواد دننه د قیمتونو له نوساناتو څخه د مخنیوی او د تورم ( د قیمتونو د عمومي سطحې زیاتوالی) د ریښو او د رامنځ ته کېدو د علتونو د مهارولو لپاره په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د کچې ښکاره کوونکې شاخصونه په ځېرتیا سره تر پام لاندې لري.

په یو اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د کچې د ښکاره کولو تر ټولو مهم شاخصونه "په ګردښت کې د پیسو حجم" او د" احتیاطي پیسو (د زیرمه شویو پیسو) کچه ده. په ټولنه کې د موجوده اقتصادي شرایطو، حالاتو او د بانکي سکتور د نا کافي ودې په پام کې نیولو سره، مرکزي بانک د بې وزلۍ د کموالي او د اقتصادي اسانتیا له برنامې سره په همغږۍ لومړی شاخص یعنې په ګردښت کې د پیسو کچه د ملاک او د نقدینه ګۍ د وضعیت د معیار په توګه په اقتصاد کې منلی وه.

## په ۱۳۸۸ کال کې د نقدینه ګۍ (سیالیت) څرنګوالی

څرنګه چې یادونه وشوه مرکزي بانک په هېواد کې د نقدینه ګۍ د څارنې په موخه په ګردښت کې پیسې کنټرولوي. په دوران کې پیسې هغه افغانۍ پیسې دي چې نشر شوی وي او هغه پیسې په کې شاملې نه دي چې د هېواد په ولایتونو او مرکز کې د مرکزي بانک په خزانو کې موجودې دي. په ذکر شوي کال کې په ګردښت کې د ټولیزه پیسو حجم شاوخوا ۷۷ ملیارده افغانۍ وې. د ۱۳۸۸ هجرۍ لمریز کال په لومړیو کې د همدې کال لپاره په دوران کې د پیسو د ودې کچه په سلو کې ۱۶ ټاکل شوې وه.

په هېواد کې د پولي تورم د منفي نرخ د بهیر د دوام له امله د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې پر دې کچې بیا کتنه وشوه او ۲۲ سلنې ته یې زیاتوالی ومونده. د دې کچې پر بنسټ د همدې کال په پیل کې، په ګردښت کې د پیسو کچه شاوخوا ۷۷ ملیارده افغانۍ وه او د ۲۲ سلنې حد اکثر زیاتوالي سره باید د ۹۴ ملیارده افغانیو له پولې تیر شوی نه وی. خو سره د دې د ۱۳۸۸ کال په دویمه نیمایي کې، د بانک ارزونې ښکاره کړه چې اقتصادي بدلونونه ایجابوي چې په ګردښت کې د پیسو پر کچې یو ځل بیا کتنه وشي.

افغانی پیسو ته د تقاضا زیاتوالي په ګردښت کې د پیسو د ودې کنټرول تر ۲۲ سلنې کچې لاندې ناشونی کړ. د دې زیاتېدو له لاملونو څخه کولای شو د بهرنیو ځواکونو د لګښتونو له زیاتوالي او د دولت د لګښتونو له زیاتوالي څخه یادونه وکړو. د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې د حکومتي لګښتونو یوازې شاوخوا ۲۱ ملیارده افغانی او د همدې کال په درېیو وروستیو میاشتو کې د ټولیزه لګښتونو ۴۳ ملیارده افغانی راپور ورکړل شوی دی. دا په داسې حال کې چې د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې د افغانستان حکومت د میاشتنیو لګښتونو منځنی حد شاوخوا ۹ ملیارده افغانی و.




**۱ ګراف د ۱۳۸۸ کال په ګردښت کې پیسې شکاره کوي، (ارقام په ملیون افغانی)**




**۲ ګراف- د پیسو د خېرولو تراکمي وده شکاره کوي**

د یادونې وړ ده چې مرکزي بانک د نوو پیسو د خپرولو سره سم د زړو او مندرسو پیسو د لمنځه وړلو لړۍ تر لاس لاندې لري. د زړو پیسو موجودیت هېوادوالو ته د زیاتو ستونزو د رامنځته کېدو لامل کیږي. له دې کبله مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د زړو او مندرسو پیسو د بدلیدو(تعویض) کار په جدیت سره تعقیب کړ او نیمګړې، زړې او مندرسې پیسې یې لمنځه یوړې.

**لاندې جدول د تیرو څو کلونو په اوږدو کې د زړو پیسو د له منځه وړلو بهیر ښکاره کوي.**




**ګراف– سوځول شوې پیسې(ارقام په ملیون افغانی)**

## د احتیاطي پیسو کچه

خرنګه چې وویل شو په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ له شاخصونو څخه یو یې هم د احتیاطي پیسو کچه ده چې په ګردښت کې د پیسو له مجموع او د مرکزي بانک د بانکي سیستم د افغانی له سیاله اماناتو څخه لاسته راځي.

دا شاخص په اقتصاد کې د نقدینه ګۍ د منځته راوړلو په برخه کې د سوداګریزو بانکونو پیاوړتیا ښکاره کوي. که چېرې د نقدینه ګۍ کچه د اسمي اقتصادي ودې سره سم زیاتوالی ونه کړي، نو د قیمتونو او د پولي تورم د نرخ د لوړیدو لامل کیږي. هر څومره چې مرکزي بانک په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د احتیاطي پیسو وده د اصلي شاخص په توګه نه تعقیبوله، په داسې حال کې د هېواد د مالي سکتور د کیفي او کمي ودې او پراختیا له امله، د دې شاخص د ودې بهیر هم د مرکزي بانک د مسؤلینو او کار پوهانو لخوا تعقیب کېده.

د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په پیل کې د احتیاطي پیسو د ودې کچه ۱۷ سلنه ټاکل شوې وه. خو له هغه ځایه چې د یاد شوي کال د لومړۍ نیمایي په ترخ کې، د احتیاطي پیسو کچې هیڅ زیاتوالی ونه مونده ( د بانکي اماناتو نوسانات په ځانګړې توګه د امریکایي ځواکاونو برداشت او لګښتونو د کال د لومړۍ او دویمې ربعې په ترخ کې) د دې شاخص پر اقتصادي کچې بیا کتنه وشوه او ۷،۹سلنه وټاکل شوه. د پورته ذکر شوي لاملونو په پام کې نیولو سره، په همدې کال کې د احتیاطي پیسو نهایي کچه ۱۷،۱ سلنه وه.

## د نقدينه ګۍ د مهارولو لپاره د مرکزي بانک ابزارونه

## په ګردښت کې د پيسو کنټرول

په يو هېواد کې د قيمتونو د ټيکاو لپاره په دوامداره توګه د پولي سياست تر ټولو مهم ابزار د بازار عمليات ده. خو اوس مهال د دولت کسري بودجه او نور دولتي او غير دولتي اداري په عمومي توګه د بهرنيو مرستو له لارې ټيکاو مومي، په هېواد کې د سرمايوي پاڼو بازار لا تر اوسه عملي شوی نه ده. له همدې امله مرکزي بانک د ۱۳۸۸ هجري لمريز کال په اوږدو کې په ټوليزه توګه ۲/۰۵۹/۹۵۰/۰۰۰/۰۰ امريکايي ډالره پلورلي دي. د بهرنيو اسعارو پلورل په دريم څپرکی (د بازار عمليات په راپور) کې راغلي دي.

### د احتياطي پيسو کنټرول

د افغانستان بانک د احتياطي پيسو د مهارولو لپاره دري ابزارونه په واک کې لري.

۱- د بهرنيو پيسو پلورل، ۲ د بيه لرونکو پاڼو پلورل، او ۳- د اجباري زيرمو اندازه.

دا دري ابزارونه په احتياطي پيسو باندې په بيلا بيلو درجو خپل اغيز پريږدي. د بهرنيو اسعارو د پلورلو بدلونونه په پورته پاراګراف کې په ډاګه شوي. له دې ابزار څخه عمدتاً په ګردښت کې د پيسو د کنټرول لپاره ګټه اخيستل کيږي، خو کله چې د احتياطي پيسو د ودې بهير کنټرول کيږي، لازمه ده چې د بانکي سيستم د نقدينه ګۍ(سياليت) زياتوالی هم کنټرول شي. نو په همدې وجه له بيه لرونکو پاڼو څخه ګټه اخيستل کيږي. بيه لرونکي پاڼې، د پانګې اچونې هغه لنډ مهاله اسناد دي چې خصوصي بانکونه د هغې له لارې خپلې اضافي زيرمې د پانګې اچونې په توګه د مرکزي بانک سره ږدي.

له هغه ځايه چې د بانکي سکتور د نقدينه ګۍ زياتوالی، د اقتصادي فعاليتونو د ډيروالي او ورسره سم د پولي تورم د لوړيدو لامل کيږي، نو د پولي سياست د دې ابزار د معرفی عمده لامل د بانکي سکتور د نقدينه ګۍ کنټرول ده. د بيه لرونکو پاڼو د پلورلو او بهرې نرخونو کچه د دې راپور د بازار عمليات په برخه کې ثبت شوی ده.

### اقتصادي وده:

د تېرو اتو کلونو په اوږدو کې د افغانستان اقتصادي وده په منځنۍ ډول په کال کې ۱۱،۶ سلنه ثبت شوې ده، چې عمده لامل يې د اقتصادي کړنو زياتوالی او نړيوال مساعدتونه ګڼل کيږي. په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د افغانستان اقتصادي وده په سلو کې شاوخوا ۲۲،۵ اټکل شوې ده. د اقتصادي ودې د زياتېدو اصلي لامل د کرنې د سکتور وده ښودل شوې ده.

د کرنې سکتور وده تېر کال په سلو کې ۵۰ ته زياته شوې وه. د اقتصادي سکتورونو په منځ کې د GDP په تشکيليدو کې د کرنې سکتور ونډه په سلو کې۳۳،۱، د صنعتي سکتور ونډه په سلو کې ۲۴،۳ او د خدماتو سکتور ونډه په سلو کې شاوخوا ۴۰ اټکل شوې ده.

بايد ياده شي چې په څو وروستيو کلونو کې د هېواد په اقتصاد کې د صنعت او خدماتو د سکتور ونډه په پرله پسې توګه زياتوالی موندلی او د کرنې سکتور وده د هوا د حالاتو له امله په نوسان کې وه. د ۱۳۸۷ کال پر خلاف کرنيز محصولات د دوامدارې وچکالي او لږ ورښت له کبله له اټکلي کچې څخه کم ؤ او په هېواد کې يې اقتصادي وده ۳،۴ ته راټيټه کړې وه. خو په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د ورښتونو او کرنيزو حاصلاتو زياتوالی، لامل شو چې د هېواد اقتصاد شاوخوا ۵۰ سلنه وده ومونده.




**۴ ګراف، د تېرو اتو کلونو په اوږدو کې د ناخالصه کورنيو توليداتو اسمي وده ښکاره کوي**

| | ۱۳۸۱ | ۱۳۸۲ | ۱۳۸۳ | ۱۳۸۴ | ۱۳۸۵ | ۱۳۸۶ | ۱۳۸۷ | ۱۳۸۸ (اټکل) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ناخالصه ملي توليداتو واقعي وده | ۲۸،۶ | ۱۵،۱ | ۹،۴ | ۱۶،۱ | ۸،۲ | ۱۱،۵ | ۳،۴ | ۲۲،۵ |
| د ناخالصه ملي توليداتو اسمي وده (مليارد افغانی) | ۱۸۳ | ۲۵۵ | ۲۸۶ | ۳۲۲ | ۳۸۵ | ۴۸۵ | ۶۰۰ | ۷۱۴ |
| د پولي پرسوب نرخ(د کال پای) | ۲۶،۶ | ۱۰،۱ | ۱۴،۹ | ۹،۵ | ۴،۷ | ۲۰،۷۳ | ۳،۲ | -۵،۱ |
| ملي سرانه عايد(امريکايي ډالر) | ۱۸۲ | ۱۹۹ | ۲۵۳ | ۳۰۰ | ۳۳۵ | ۳۸۳ | ۴۲۹ | ۵۰۱ |

**لاندې (۱) جدول په تېرو اتو کلونو کې د هېواد د اقتصادي سکتور ځينې مهم شاخصونه وړاندې کوي**

## پولي تورم:

د تورم د کنټرول په موخه د مرکزي بانک سياستونه چې په همدې کال کې پلي کړی ؤ د تقاضا د کمښت او د نړيوال اقتصادي رکود او په ورته وخت کې د موادو د بيو په ځانګړي توګه د سون موادو د ټيټوالي له امله د تورم نرخ د ۱۳۸۷ کال د غويي په مياشت کې ۴۳،۲ سلنه لوړ تللی ؤ، د همدې کال له نيمايي ځخه په پرله پسې توګه مخ په کمېدو شو او له امله يې د انفلاسيون وضعيت د ديفلاسيون حالت غوره کړ.

**لاندې دوه عوامله کولای شو په ۱۳۸۸ کال کې د تورم د نرخ د منفي کېدو اصلي لاملونه وګڼو:**

۱- د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال په اوږدو کې د خوراکي توکو او سون موادو بیو په نړیوالو بازارو کې د پام وړ زیاتوالی وموند چې دا کار د افغانستان په شمول په ټولو هېوادو کې د پولي تورم د لوړېدو لامل شو. همدا ډول په ټوليزه توګه د تورم نرخ د ۱۳۸۷ کال د غويي په میاشت کې شاوخوا ۴۳ سلنه محاسبه شوی ؤ. خو د مالي کړکیچ د پیل او د نړیوال اقتصادي رکود او د خوراکي توکو او سون موادو د بیو د زیاتیدو له کبله پولي تورم خپل نزولي بهیر پیل کړ او د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال تر نیمايي پورې یې دوام درلوده. باید زیاته کړو چې افغانستان په ۱۳۸۷ هجري لمریز کال کې د وچکالۍ له ډېرو ستونزو سره لاس او ګریوان ؤ.

۲- له بلې خوا، په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د هېواد د کرنې سکتور بې سارې وده تجربه کړې چې د موجوده شمېرو له مخې دې سکتور په همدې کال کې څه باندې ۵۰ سلنه وده درلوده.

له هغه ځایه چې دیفلاسیون پر اقتصاد منفي اغیز لري، مرکزي بانك د دیفلاسیون له وضعیت څخه د خلاصون په موخه وړ او معقول پولي سیاست تر لاس لاندې نیولی. د دې سیاست له ا صلي ابزارو څخه یو یې هم د سیالیت د کچې زیاتوالی او په ګردښت کې پیسې دي. د نقدینه ګۍ د زیاتوالي او د نړیوال اقتصادي شرایطو د ښه والي له امله د قیمتونو انقباضي نرخ ورو ورو کموالی وموند. د بېلګې په توګه د کُلي تورم د نرخ شاخص چې د کال په لومړیو کې ۹،۷- سلنه ؤ د کال په پای کې ۵،۱- سلنې ته ورسیده. دا په دې مانا چې د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې د اقلامو لګښتي ټوکرۍ د ۱۳۸۷ کال د کب د میاشتې په پرتله پنځه سلنه ارزانه تمامیده. باید ووېل شي چې د اقلامو په لګښتي ټوکرۍ کې، ۶۳ سلنه یې خوراکي مواد او ۳۷ سلنه یې نور لګښتي توکي جوړوي. څکه د خوراکي توکو د بیو د لوړیدو اغیز پر پولي تورم څو برابره له نورو توکو څخه زیات دی. د ۱۳۸۸ کال په پای کې د تورم اصلي نرخ مثبت بهیر غوره کړ او په سلو کې شاوخوا ۳ ته ورسید.

**لاندې ګراف د تېرو څو کلونو په اوږدو کې د پولي تورم نرخ د خوراکي او نا خوراکي توکو عمومي توپیر ښکاره کوي**




**۵ ګراف- په ۱۳۸۸ کال کې د تورم بهیر**

څرنګه چې په پورته ګراف کې ليدل کيږي، د نا خوراکي توکو (شين منحني) د پولي تورم نرخ تقريباً د صفر له کرښې څخه په دوامداره توګه لوړ قرار درلودلی ده. که څه هم د عمومي تورم نرخ له خاص اهميت څخه برخمن ده، خو د پولي سياستونو طرحه کوونکي د تورم اصلي نرخ(هسته) په پام کې نيسي. دا په دې مانا چې د عمومي تورم د نرخ ټول اقلام په لګښتي ټوکرۍ کې شامل دي، نو څکه زيات نوسانات لري. که څه هم په هېواد کې د پولي سياستونو طرحه کوونکي د اقتصادي فعاليتونو له امله د پولي تورم نرخ ته متوجې دي او له همدې کبله د مختلفو لارو څخه په استفادې کوښښ کوي تر څو د اصلي تورم نرخ محاسبه کړي.

سربېره پر دې نا خوراکي پولي تورم چې د اقتصادي فعاليتونو له مخې د تورم بيانوونکی ده، خو د افغانستان بانک د مرکزي بانک په توګه د دوو نورو ميتودونو(روشونو) په کاروني سره د اصلي تورم نرخ (هسته) محاسبه کوي. د دې روشونو اصلي موخه د پولي تورم څخه د بيو د زيات نوسان لرونکو اقلامو له منځه وړل دي. د يادونې وړ ده چې د مرکزي بانک موخه د پولي تورم نرخ په منځمهاله موده کې د ۳ څخه تر ۵ سلنې پورې ساتل دي چې د افغانستان د اقتصادي شرايطو سره ورته وي.

## د افغانۍ د مبادلې نرخ

مرکزي بانک عملاً د افغانۍ مبادلوي نرخ تر موخې لاندې نه نيسي، خو بې له شکه پر اقتصادي شاخصونو د مبادلوي نرخ د نوساناتو منفي اغيزو ته متوجې وي. د که چېرې بازار د مکانيسم عوامل وکولای شي چې د اسعارو د بازار توازن خوندي وساتي نو د مرکزي بانک مداخله نه يوازې له لګښته ډکه وي بلکې د اقتصاد د لا کړکيچ لامل هم کېدای شي.

څرنګه چې دمخه يادونه وشوه، د بهرنيو اسعارو د اونيزه پلورلو څخه لومړنۍ موخه، په اقتصاد کې د نقدينه ګۍ (سياليت) کنټرول دی تر څو د هغې سره سم په هېواد کې د پولي تورم نرخ په مطلوب حد کې خوندي وساتي. بې له شکه د بهرنيو اسعارو پلورل د افغانۍ په مبادلوي نرخ باندې ډېرې اغيزې لري خو دا يوازې د افغانۍ د مبادلوي نرخ له ګڼو عواملو څخه يو عامل ګڼل کيږي.

د ۱۳۸۸ کال د وري مياشت کې د افغانۍ مبادلوي نرخ د يو امريکايي ډالر په وړاندې شاوخوا ۵۱،۷۶ افغانۍ ؤ، چې د همدې کال په پای کې ۴۸،۴۸ افغانۍ ته ورسيد او دا په دې مانا چې د همدې مودې په ترځ کې د افغانۍ ارزښت د بهرنيو اسعارو په وړاندې ۶،۳ سلنه زياتوالی ومونده.

لاندې ګراف د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د افغانۍ مبادلوي نرخ ښکاره کوي




۶ګراف، په ۱۳۸۸ کال کې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ د مبادلوي نرخ بهير ښکاره کوي

## د اسعارو په وړاندې د افغانۍ د ارزښت د زیاتېدو عمده لاملونه کولای شو په لاندې ډول خلاصه کړو:

۱- د نړیوالو ائتلافي ځواکونو د زیاتو لګښتونو د تمویل له امله د اسعارو راننوتل

۲- له نړیوالو مساعدتونو څخه د افغانستان حکومت د بودجې تمویل

۳- د ورکړې او اسعاري زیرمو په موخه د هېواد پر پولي واحد د خلکو د اعتماد زیاتوالی د افغانۍ څخه د زیاتې ګټې اخیستنې لامل شوی دی. که څه هم له اسعارو څخه استفاده ډېر لګښت غواړي، خو په افغانۍ باندې د خلکو د لوړ اعتماد او ډاډ په پام کې نیولو سره، خلک دې ته چمتو ؤ چې دا لګښتونه په غاړه واخلي. د جنګ په دوران کې نا امنۍ دا بې اعتمادي په ګوته کوي چې افغانۍ هره ورځ د پولي تورم د نرخ له کبله، خپل ارزښت له لاسه ورکاوه.

## د پولي سیاست په پلي کولو کې د مرکزي بانک پر وړاندې مهمې ننګونې

بې له شکه د پولي سیاست پلي کول په هر هېواد کې له زیاتو ستونزو سره مخامخ وي. افغانستان هم له د قاعدې څخه بې برخې نه دی. دلته هم د پولي سیاست په وړاندې راپیدا شوو دوو ستونزو ته اشاره کېږي:

لومړی: د پولي تورم (عمومي) نرخ د یاد شوي کال په اوږدو کې په پرله پسې توګه منفي ؤ. که څه هم د ۱۳۸۸ کال په لومړیو کې د پولي تورم نرخ، د نړیوال اقتصادي رکود په پایله کې د نړیوالو قیمتونو د زوال(افت) او په هېواد کې د کرنې د سکتور د بې سارې ودې له امله ( شاوخوا ۵۰ سلنه)، عادي بریښېده، خو د دې بهیر د دوام له امله د ۱۳۸۸ کال په لومړنۍ نیمايي کې، د اندېښنې وړ ؤ او دې کار د پولي سیاست نسبتاً انبساطي پلي کولو لپاره زمینې برابرې کړې چې په پایله کې مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال لپاره په ګردښت کې د پیسو کچه په پرله پسې توګه د پیسو د نړیوال صندوق سره په مشورې د ۱۶ سلنې څخه ۲۲ سلنې ته زیاته کړه. څرنګه چې اشاره وشوه د ځینو نورو عواملو له امله په ګردښت کې د پیسو د ودې د کنټرول له امله هم په سلو کې ۲۲ وده هم د امکان وړ نه وه، خو مرکزي بانک هڅه وکړه تر څو د پیسو نړیوال صندوق سره په مشورې دا کچه ۲۹ سلنې ته زیاته کړي.

دویم: د لازمو پولي سیاستونو پلي کول د نورو اقتصادي شاخصونو له بدلونونو څخه دقیقه وړاند وینه ده. چې البته په مالي سیاست (بودجوي لګښت او دولتي عوایدو) کې بدلونونه مهم رول لوبوي. که څه هم د تېرو څو کلونو په اوږدو کې د پولي او مالي سیاستونو پلي کوونکو سرچینو ( مرکزي بانك او د مالیې وزارت) تر منځ یې لازمي همغږۍ رامنځ ته کړې وې، خو د ځینو عواملو د دقیقې وړاند وینې له امله د افغانستان د حکومت لګښتونه هر میاشت له زیاتو ستونزو او ننګونو سره لاس او ګرېوان ؤ. د دې ستونزو عمده لاملونه عبارت دي له:

۱- د پارلمان لخوا د بودجې نه تصویبول

۲- د حکومتي بنسټونو لخوا د بودجوي لګښتونو په پلي کولو کې ځنډ، بوروکراسي او د لازمو ظرفیتونو نشتوالی

۳- بهرنیو مرستو ته د بودجوي لګښتونو اتکاء



# د مالي نظام پراختيا او پرمختيا

د افغانستان د بانکي نظام اوسنی بڼه

پور ته د لاس رسی په نړيوال کتار کې د افغانستان د مقام لوړوالی

د بانکي نظام پراختيا، د دندې د برابرونې زمينه

د بانکي سيستم شتمنی

پانګه

د بانکي سيستم پورونه

امانات

د بانکي نظام ګټه او فايده

# د مالي نظام پراختیا او پرمختیا

د هېواد په اقتصادي ودې کې د مالي سیستم د ارزښت او اهمیت په پام کې نیولو سره او د افغانستان د ملي انکشافي کړنلارې له مخې چې د کاري لومړیتوبونو په اړانه کې د مالي سیستم پر پراختیا او پیاوړتیا ټینګار کوي، مرکزي بانک، د مالي سیستم د فعالیتونو او د پراختیا د یو څارونکی مسئوول ارګان په توګه د دې نظام د ودې او پراختیا لپاره اغیزناکه ګامونه پورته کړې دي.

د قوانینو د تصویب په اړانه کې د هېواد د مالي نظام د قانوني بیخبنسټونو برابرول په بانکي معاملاتو کې د منقولو او غیر منقولو اموالو د رهن قانون او د معاملاتو ورې اسنادو قانون له پارلمان څخه او د افغان اماناتو د بیمې د شرکت قانون پارلمان ته وړاندې کول د دې ګامونو روښانه بېلګې دي.

په ورته وخت کې مرکزي بانک د بانکي نظام د پراختیا او پیاوړتیا لپاره ګړندي او هر اړخیز اقدامات تر سره کړي دي.

د دې بانک د څارنیزو دندو د پلي کولو په برخه کې د مرکزي بانک لاسته راوړنې او اقدامات د بانکي نظام د څرنګوالي او کړنو په راپور کې په خپل وار سره وړاندې کېږي.

### د افغانستان د بانکي نظام اوسنی بڼه

۱۷ بانکي مؤسسې(دوه دولتي بانکونه، ۱۰ خصوصي بانکونه او ۵ د بهرنیو بانکونو نمایندګی) د افغانستان د بانکي نظام کورنی جوړوي.




(۷) ګراف، د ۱۳۸۸ کال په پای کې د افغانستان د بانکي نظام جوړښت

د هېواد د بانکي نظام فعالیتونه په دوامداره توګه د مرکزي بانك لخوا څار او ارزول کېږي. د ۱۳۸۸ کال په پای کې په ټولیزه توګه د هېواد په ۳٤ ولایتونوکې د کابل ښار په شمول ۴۴۵ د بانکي اسانتیا واحدونه موجود ؤ.

**(۸)ګراف- په هېواد کې د نمایندګیو شمېر او نورې بانکي اسانتیاوې ښکاره کوي**




**(۸) ګراف، د ۱۳۸۸ کال په پای کې بانکي اسانتیاوې**

همدا ډول مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال تر پای پورې ۲۱۹ د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او ۵۳۸ د بهرنیو اسعارو صرافانو ته جوازونه ورکړي دي. د هېواد په ولایاتو کې د فعالو صرافانو شمېر ۲۹۵ او په کابل کې ۲۴۳ تنو ته رسیږي. بایـد وویل شي چې د پولي خدماتو د ۲۱۹ وړاندې کوونکو څخه یې ۱۶۹ په کابل کې فعالیت کوي او سربېره پردې د هېواد په ولایاتو کې د پولي خدماتو د وړاندې کونې ۳۱۵ نمایندګۍ هم موجودې دي.

**لاندې ګراف د ۱۳۸۵ کال له ورې څخه د ۱۳۸۸ کال تر ورې پورې د پولي خدماتو وړاندې کوونکو او د بهرنیو اسعارو د صرافانو ټولیزه وده ښکاره کوي.**




**(۹) ګراف- د صرافانو او پولي خدماتو د وړاندې کوونکو کمه وده ښکاره کوي**

## پورته د لاس رسی په نړیوال کتار کې د افغانستان د مقام لوړوالی

۱۳۸۸ هجري لمریز کال د هېواد د مالي نظام لپاره د لویو لاسته راوړنو کال ؤ په دې کال کې افغانستان خدماتو ته د لاس رسی له مخې د پام وړ وده تجربه کړی. د نړیوال بانک د رتبې ټاکنې پر بنسټ افغانستان پور ته د لاس رسی په رتبه ټاکنه کې د بېې ساري لوړوالي شاهد ؤ. د مالي او بانکي نظام د پراختیا او پور ته د خلکو د لاس رسی په موخه د زیاتو اسانتیاوو او امکاناتو پـه برابروني سره، افغانستان څو ګامه مخې ته راغلی چې اوس مهال یې ۱۲۷ تم ځای خپل کړی دی.

(۲ جدول)

| مالي اعتبار ته د لاس رسی شاخص | ۱۳۸۷ کال | ۱۳۸۸ کال |
|---|---|---|
| د افغانستان مقام | ۱۸۰ | ۱۲۷ |

(۲) جدول– پور ته د لاسرسی په نړیواله رتبه ټاکنه کې د افغانستان د ځای پرتله – منبع نړیوال بانک

## د بانکي نظام پراختیا، د دندې د برابروني زمینه

د افغانستان د بانکي نظام ورځ تر بلې پراختیا د بانکي نظام اړوند په زرهاوو کسبونه رامنځته کړي دي. د بانکي سکتور د کورنیو کارکوونکو شمېر ۸۳۷۱ تنه او د بهرنیو کارکوونکو شمېر ۱۶۹ تنه دي او بانکي سکتور وتوانیده چې په زرهاوو نور کسبونه په غیر مستقیمه توګه پیدا کړي. د دې تر څنګ د ۵۸،۱۱۰ زرو څخه زیاتو حکمي او حقیقي شخصیتونو له بانکي سیستم څخه پوروته تر لاسه کړي دي او په سوداګریزو بانکونو کې د ۱،۲۸۵،۵۵۳ په شاوخوا کې د جاري سپما او میعادي اماناتو حسابونه پرانیستل شوي دي.

## د بانکي سیستم شتمنی

د بانکي سیستم ټولیزه شتمنی د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په پای کې، د شمېرو پر بنسټ ۱۸۱،۰۹ ملیارده افغانی(۳،۸۵ ملیارده ډالرو) ته رسیږي چې د ۱۳۸۷ کال د پای په پرتله، ۲۴،۶۵ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. د افغانستان د بانکي نظام ټولیزه شتمنی د ۱۳۸۷ هجري لمریز کال په پای کې ۱۴۵،۲۸ ملیارده افغانی(۲،۸۵ ملیارده امریکایي ډالره) وه. د خصوصي بانکونو د ګروپ ټولیزه شتمنی په همدې دوره کې ۲۹،۴۸ سلنه وده چې د ۱۳۸۷ کال د پای په پرتله یې تر ټولو ډېره وده درلودلې ده. همدا ډول د دولتي بانکونو ټولیزه شتمنی د ۱۳۸۷ کال د وروړې په پرتله ۳۶ سلنه او د بهرنیو بانکونو د څانګو ټولیزه شتمنی د تیر کال په پرتله ۱۱،۴۴ سلنه وده کړې ده.




(۱۰) ګراف– په ترتیب سره د افغانستان د بانکي نظام شتمنی، امانات او پانګه ښکاره کوي




(۱۱)ګراف- د خصوصي، دولتي او بهرنیو بانکونو د شتمنی د ودې پرتله(مقایسه)

| د ۱۳۸۸ کال په پای کې د بانکونو په توپیر سره د بانکي نظام د شتمنیو جدول | | |
|---|---|---|
| د بانک نوم | په میلیون افغانی د شتمنیو کچه | له ټولیزه شتمنیو څخه د هر بانک ونډه |
| کابل بانک | 62,435 | 34.48% |
| د افغانستان نړیوال بانک | 21,165 | 11.69% |
| عزیزی بانک | 19,201 | 10.60% |
| افغان ملي بانک | 13,978 | 7.78% |
| پشتني بانک | 12,262 | 6.77% |
| الفلاح بانک | 10,219 | 5.64% |
| ستندرد چارتر | 9,389 | 5.18% |
| افغان یونایتید بانک | 8,831 | 4.88% |
| فرست مایکرو فاینس بانک | 6,415 | 3.54% |
| حبیب بانک لمتید | 4,025 | 2.24% |
| میوند بانک | 3,228 | 1.78% |
| نشنل بانک آف پاکستان | 3,060 | 1.69% |
| غضنفر بانک | 2,087 | 1.15% |
| باختر بانک | 1,578 | 0.87% |
| آرین بانک | 1,372 | 0.76% |
| برک افغانستان بانک | 963 | 0.53% |
| پنجاب نشنل بانک | 877 | 0.48% |
| ټولیزې شتمنی | **181,085** | **100.00%** |

(۳) جدول




**(۱۲) ګراف- د بانکونو په تفکیک سره د بانکي نظام د شتمنیو وېش**

## پانګه

بانکي سیستم کاپي پانګه لري. د ۱۳۸۸ کال په پای کې د بانکي سکتور ټولیزه پانګه ۲۲،۵ ملیارده افغانۍ(۴۸۰ ملیونه ډالره) ښودل شوې ده. دا شمېره د تیر کال په پرتله په سلو کې ۱۸،۰۳ وده ښکاره کوي. د خصوصي بانکونو د پانګې وده ۲۸،۵۲ سلنه او د دولتي بانکونو د پانګې ده ۶،۸۴ سلنه ده د ټولو بانکونو مقرراتي پانګه د مرکزي بانک د لږ تر لږه ټاکلې پانګې(د شتمنیو په سلو کې ۱۲) څخه زیاته ده.

## د بانکي سیستم پوروته

د بانکي سیستم له ټولیزه شتمنیو څخه شاوخوا ۳۶،۷۲ سلنه بانکي پوروته جوړوي. د ۱۳۸۸ کال د پای د شمېرو پر بنسټ د بانکي سکتور ټولیزه پوروته ۶۶،۴۹ ملیارده افغانۍ( شاوخوا ۱،۴۲ ملیارده امریکایي ډالرو) ته رسیږي چې د تیر کال د کب د میاشتې په پرتله په سلو کې ۲۷،۵۱ وده ښکاره کوي. د دې پورونو له جملې څخه د بانکي سیستم په افغانیو د پورونو کچه ۱۷،۲۲ ملیارده افغانۍ(۳۶۸ میلیونه ډالره) یا د ټولیزه پورونو ۲۶،۰۱ سلنه او د ټولیزه شتمنیو ۹،۵۵ سلنه جوړوي او د تیر کال د کب د میاشتې په پرتله ۲۲،۷۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

ډالري پورونه ۴۹،۱۷ ملیارده افغانۍ(۱،۰۵ ملیارده ډالره) یا د ټولیزه پورونو ۷۳ سلنه یا د ټولیزه شتمنیو ۲۷،۱۵ سلنه په بر کې نیسي او د ۱۳۸۷ کال د کب له میاشت څخه ۲۹،۶۲ سلنه وده ښکاره کوي. د دې پورونو له جملې څخه د خصوصي بانکونو ونډه په سلو کې ۸۳،۲۸ د دولتي بانکونو ونډه په سلو کې ۱۲،۶۸ او د بهرنیو بانکونو د نمایندګیو ونډه په سلو کې ۴،۰۴ ښودل شوې.

د ۱۳۸۸ کال د پای د شمېرو پر بنسټ د اعتباراتو په کوچنیو سکتورونو او کوچنیو او متوسطو تشبثاتو (SME) کې پورونه ۱۰،۳۱ ملیارده افغانۍ ته رسیږي چې له دې شمېرې څخه ۸،۴۳ ملیارده د کارو بار په کوچني او متوسط سکتور (SME) کې او ۱،۸۹ سلنه د کوچنیو اعتباراتو په اړانه کې تر سره کیږي.




**(۱۳) ګراف- د پورونو وېش**

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې صعب الحصول پورونو د تېر کال په پرتله ۲۷۵ ملیونه افغانۍ ټیټوالی موندلی دی. د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې د شمېرې له مخې صعب الحصول پورونه ۳۲۴ ملیونه افغانۍ(۶،۸۹ ملیونه ډالره) یا د ناخالصه پورونو په سلو کې ۰،۴ جوړوي.




**۱٤ گراف– د صعب الحصول پورونو ټیټوالی نسبت سهل الحصول پورونوته**

معکوس ډله بندي شوي پورونه(هغه پورونه چې تحت المعیار، مشکوک او د خسارې کټګوریو کې راځي) ۴۱۷ ملیونه افغانۍ (۱۰،۰۲ ملیونو ډالرو) ته رسیږي چې د ناخالصه پورونو ۳،۴۹ سلنه جوړوي. دا شمېره تیر کال ۱،۸۲ ملیارده افغانۍ ته زیاته شوې وه. همدارنګه په نظر وړ کټګورۍ کې ډله بندي شوي پورونه چې د صنف بندي شویو پورونو په منځ کې تر ټولو لوړه سلنه جوړوي، چې د تیر کال ۱۰،۴۶ سلنې څخه په دې دوره کې ۳،۲۸ سلنه ټیټوالی موندلی ده.

د مختلفو سکتورونو او ولایاتو په منځ کې د پورونو د وېشنې تر منځ توازن کولای شي چې په یو یا څو سکتورو یا ولایتونو کې د خطراتو له تمرکز څخه مخنیوی وکړي. په ورته وخت کې دا تعادل کولای شي چې د اقتصادي سکتورونو په متوازنه وده کې مرسته وکړي.

**۴ او ۵ جدولونه د سکتور او ولایاتو له مخې د پورونو وېش ښکاره کوي.**

| په ۱۳۸۸ کال کې د مختلفو سکتورونو تر منځ د بانکي پورونو وېش | |
|---|---|
| رهني او تعمیراتي پورونه | ۱۹,۹۲% |
| نور سوداګریز پورونه | |
| | ۰,۰۰% |
| تولیدات | ۱,۲۲% |
| سوداګري | ۳۲,۲۹% |
| مخابرات | ۱,۰۴% |
| خدمات | ۴,۸۴% |
| اسانتیاوي | ۲,۴۷% |
| نور سوداګریز پورونه | ۲۵,۰۰% |
| کرنیز پورونه | ۰,۸۸% |
| لګښتي پورونه | ۱,۳۳% |
| د اشخاصو لپاره د هستوګنې رهني پورونه | ۷,۳۰% |
| نور پورونه له پورته یاد شوي مواردو پرته | ۳,۶۹% |
| مجموعه | ۱۰۰,۰۰% |

**(۴) جدول**

| شمېره | ولایت | د پور مبلغ ( په ملیون افغانی) | د سلنې له قراره د پورونو مجموعه |
|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۵۳،۹۶۸ | ۸۸،۳۳٪ |
| ۲ | بدخشان | ۱۳۲ | ۰،۲۱٪ |
| ۳ | بادغیس | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ٤ | بغلان | ۱۷٦ | ۰،۳۹.٪ |
| ٥ | بلخ | ۳،۱۷٦ | ٤،۹۸٪ |
| ٦ | بامیان | ۱٤۰ | ۰،۲۳٪ |
| ۷ | دایکندی | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۸ | فراه | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۹ | فاریاب | ٦٦ | ۰،۰۹٪ |
| ۱۰ | غزنی | ٤۳ | ۰،۰۰٪ |
| ۱۱ | غور | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۱۲ | هلمند | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۱۳ | هرات | ۱،۷۱۹ | ۳،۰٥٪ |
| ۱٤ | جوزجان | ۹۳ | ۰،۱۲٪ |
| ۱٥ | کندهار | ۲۹۸ | ۰،٤٤٪ |
| ۱٦ | کاپیسا | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۱۷ | خوست | ٤٤ | ۰،۰۷٪ |
| ۱۸ | کنر | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۱۹ | کندز | ٥۳۰ | ۰،۷۸٪ |
| ۲۰ | لغمان | ۱۲٥ | ۰،۰۸٪ |
| ۲۱ | لوګر | | ۰،۰۰٪ |
| ۲۲ | ننګرهار | ۷٦۲ | ۰،۸۷٪ |
| ۲۳ | نیمروز | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۲٤ | نورستان | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۲٥ | ارزګان | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۲٦ | پکتیا | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۲۷ | پکتیکا | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۲۸ | پنجشیر | ۱۱ | ۰،۰۰٪ |
| ۲۹ | پروان | ۱٤۳ | ۰،۲۲٪ |
| ۳۰ | سمنګان | ۲٤ | ۰،۰٤٪ |
| ۳۱ | سرپل | ۲٦ | ۰،۰٤٪ |
| ۳۲ | تخار | ٤۷ | ۰،۰۷٪ |
| ۳۳ | وردګ | ۰ | ۰،۰۰٪ |
| ۳٤ | زابل | ۰ | ۰،۰۰٪ |

## امانات

د بانکي سیستم اماناتو په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د پام وړ وده ثبت کړې. په همدې کال کې اماناتو ۲۷،۳۳ سلنه وده درلوده. د ۱۳۸۸ کال په پای کې د اماناتو کچه ۱۴۹،۸۷ ملیارده افغانۍ( ۳،۱۹ ملیارده ډالره) ښودل شوې ده. دا شمېره د هېواد د بانکي نظام د ټولې بدیهی ۹۴،۵۳ سلنه جوړوي.

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې په افغانیو د اماناتو کچه ۴۸،۳۳ سلنې ودې سره؛ د ټولیزه اماناتو ۳۰،۶۷ سلنه جوړوي چې کچه یې ۴۸،۶۲ ملیارده افغانۍ(۱،۰۴ ملیارده ډالرو) ته رسیږي. ډالري امانات د ټولو اماناتو ۶۰،۰۶ سلنه جوړوي او ۹۵،۲۱ ملیارده افغانۍ(۲،۰۳ ملیارده ډالرو) ته رسیږي.

لاندې جدول د هېواد د بانکي نظام له ټولیزه اماناتو څخه د هر یو خصوصي، دولتي بانکونو او د بهرنیو نمایندګیو ونډه ښکاره کوي.




(۱۵) ګراف– د اماناتو وېش

## د بانکي نظام ګټه او فایده

د ۱۳۸۸ کال د پای د شمېرې له قراره د بانکي سیستم ټولیزه ګټه، ۲۱۱۲ ملیونه افغانی(۴۴،۹۵ ملیونه دالره ) ښودل شوې ده. چې پر شتمنی د عاید (ROA) کچه یې د تیر کال په ورته وخت کې( ۱،۴۲سلنې) څخه ۰،۲۷ سلنې ته راټیټه شوې ده. چې په مجموعي توګه اوه بانکونه د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د ۳۹۴ ملیونو افغانیو په اندازه زیانمن شوي دي.



# د بازار عملیات کړنې

د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

د بیه لرونکو پاڼو پلورل(لیلام)

د بهرنیو اسعارو پلورل

لنډ مهاله اعتباري او د امانت ایښودنې اسانتیاوې

د بهرنیو زیرمو د پانګې اچونې له لارې د مرکزي بانک ګټه

# د بازار عملیات کړنې

د افغانستان بانک د هېواد، سیمې او نړۍ د اقتصادي شرایطو د یو لړ دقیقې مطالعې او څېړنې وروسته دقیق، وړ او معقول پولي سیاست تدوین، طرحه، اتخاذ او بیا يې تطبیق کړ. د پولي سیاست د مطالعې، طرحې او تدوین چارې د مرکزي بانک د پولي سیاست عمومي مدیریت کې ترسره کېږي او د تطبیق او پلي کولو کولو کار يې د افغانستان بانک د بازار عملیات په غاړه لري. د بازار عملیات د پولي سیاست د اجرأ کولو مټ ګڼل کېږي. په دې څېرکی کې د مرکزي بانک د بازار عملیات د کړنو تر ټولو مهمه شرحه وړاندې کېږي.

### د افغانستان بانک اسعاري زیرمې

په ۱۳۸۵ کال کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو کچه ۲،۲ ملیارده ډالره وه چې دا شمېره د ۱۳۸۷ کال د کب تر ۳۰ نېټې پورې په سلو کې څه باندې ۵۰ ودې سره، ۳،۶۳۷ ملیارده امریکایي ډالرو ته ورسیده. د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د اسعاري زیرمو د ودې په لور د بهیر د دوام له امله دې کچه ۴،۲۱۸ ملیاردو ډالرو ته زیاته شوه. د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په اوږدو کې د پورتنۍ شمېرې په پام کې نیولو سره د افغانستان اسعاري زیرمې ۵۸۱ ملیونه امریکایي ډالرو ته زیاتوالی موندلی دی.

دا رښتیا ده چې په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د مرکزي بانک د اسعاري زیرمو د زیاتوالي کچه ۶۴۱،۲ ملیارده امریکایي ډالره وه، چې له دې امله مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د پولي پالیسیو د تطبیق او د افغانۍ د ټیکاو په موخه ۰۵۹،۲ ملیارده امریکایي ډالره پلورلي دي، له دې کبله د اسعاري زیرمو خالصه زیاتوالی ۵۸۱ ملیونه امریکایي ډالره د مرکزي بانک په راپور کې انعکاس موندلی دی.




**(۱٦)ګراف- د بهرنیو زیرمو ناخالصه وده**

**د بیه لرونکو پاڼو پلورل** (لیلام)

د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال له پیل څخه تر ۱۳۸۸/۱۲/۲۹ نېټې پورې په اونۍ کې یو ځل د بیه لرونکو پاڼو لیلام تر سره شوی چې په ترځ کې ۲۸ ورځني او ۱۸۲ ورځني بیه لرونکی پاڼې لیلام شوي دي. د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې په ۲۸ ورځني کپیټل نوټ کې په ټولیزه توګه ۳۳،۳۴۷،۳۳۶۰۰۰ افغانی او په ۱۸۲ ورځني کپیټل نوټ کې په ټولیزه توګه۱۷/۸۰۳/۰۰۰/۰۰۰ افغانی لیلام شوي دي او په لیلام کې بریالي بانکونو ته د دواړو ډولو کپیټل نوټونو د لیلام له امله ۱/۱۲۵/۶۳۵/۳۴۴ افغانۍ ټکټانه ورکړل شوی ده.

مرکزي بانک د لازمو تدابیرو په نیولو سره وکولای شو، چې په بیه لرونکو پاڼو کې د سوداګریزو بانکونو د پانګې اچونې کچه شاوخوا ۱۱ ملیارده افغانیو ته زیاته کړي چې د ټکټانې تر ټولو وروستنی نرخ په ۲۸ ورځني کپیټل نوټ کې ۳،۹۰ سلنه او په ۱۸۲ ورځني کپیټل نوټ کې ۵،۶۷ سلنه محاسبه شوی دی. د یادونې وړ ده چې په بانکي سیستم کې د نقدینه ګۍ د موجودیت په پام کې نیولو سره، د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د بیه لرونکو پاڼو د ټکټانې نرخ نزولي بهیر غوره کړی دی. د بېلګې په توګه د ۱۳۸۸ کال په پیل کې ۲۸ ورځنی کپیټل نوټ څه باندې ۹ سلنه ؤ چې د کال په پای کې ۳،۹ سلنې ته راټیټ شو.

**د بهرنیو اسعارو پلورل**

په ګردښت کې د پیسو د کنټرول په موخه د پولي سیاست تر ټولو اغیزناکه ابزار د بهرنیو اسعارو پلورل دي. له همدې امله مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲/۰۵۹/۹۵۰/۰۰۰/۰۰ امریکایي ډالره پلورلي دي.

**لاندې ګراف د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د بهرنیو اسعارو پلورل او ورپسې ګراف په همدې کال کې د بهرنیو اسعارو پرتله ښکاره کوي.**




**(۱۷)ګراف- د بهرنیو اسعارو اونیزه پلور**




**(۱۸)ګراف- د ډالرو د لیلام کلنی مقایسه**

## د اعتباري او امانات ایښودني لنډ مهاله اسانتیاوې

د روان کال په اوږدو کې اوسط Overnight Deposit Facility چې د سوداګریزو بانکونو لخوا د مرکزي بانک سره ایښودل شوي دي، کچه ۵،۹۵۲،۶۲۲،۲۲۰ افغانۍ ته رسیږي چې له دې امله د بازار عملیات دفتر ۱۹۰/۳۴۵/۸۶۰ افغانۍ امانات ایښودونکو ته ټکټانه ورکړې ده. همدا ډول په همدې موده کې د افغانستان بانک سره د سوداګریزو بانکونو اجباري زیرمو ( Requird Reserve ) له امله (۱۹۷/۳۳۳/۴۵۷/۰۲) افغانۍ ټکټانه سوداګریزو بانکونو ته تادیه شوی ده. په همدې ترتیب د بازار عملیات د تیر کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۳/۳۱۲/۱۷۸/۹۴۷/۷۷ افغانۍ د (Credit Facility) له لارې سوداګریزو بانکونو ته پورونه تادیه کړي او له دې کبله یې ۱۹/۵۶۲/۸۰۱/۸۹ افغانۍعواید تر لاسه کړي دي.

## د بهرنیو زیرمو د پانګې اچونې له لارې د مرکزي بانک ګټه

مرکزي بانک د ۱۳۸۸ کال له لومړیو څخه د همدې کال د کب تر میاشتې پورې ۱۷/۶۷۷/۷۴۰/۹۴ ( اوولس ملیونه شپږ سوه او اوه اویا زره او اووه سوه څلویښت ډالره او پنځه نوي امریکایي سنټه) د خپلو زیرمو د شتمنیو له لارې د بهرنیو معامله لرونکو بانکونو څخه ګټه تر لاسه کړې ده. سر بېره پر دې نوموړي بانک ۹/۱۵۱/۰۰۰/۰۰ ( نهه ملیونه او یو سلو یو پنځوس زره امریکایي ډالره) عواید د ۲۰۰۹ کال د جولای له ۳۱ نېټې څخه د ۲۰۱۰ کال د مارچ تر ۲۰ نېټې پورې چې د ۱۳۸۸ کال د کب له ۲۹ نېټې سره سمون خوري د نړیوال بانک سره د RAMP په پروګرام کې د پانګې اچونې له لارې لاسته راوړي دي. همدا ډول د مرکزي بانک ټولیزه ګټه د ۱۳۸۸ کال له پیل څخه د همدې کال د کب تر ۲۹ نېټې پورې ۲۶/۸۲۸/۷۴۰/۹۴ ( شپږ ویشت ملیونه او اته سوه اته ویشت زره او اوه سوه څلویښت ډالره او څلور نوي امریکایي سنټو) ته زیاته شوې ده.




# د تادیاتو نظام

د ACSSسیستم په کاروني سره د بانکونو تر منځ معاملات

د AFTSسیستم په کاروني سره له ولایاتو څخه مرکز او بر عکس معاملات

د AFTSسیستم په کاروني سره له ولایاتو څخه ولایاتو(له نمایندگی- نمایندکی ته) معاملات

د تلگرام څانگه

# د تادیاتو نظام

د تادیاتو نظام په مدرن اقتصاد کې د اقتصادي او مالي ودې او پرمختیا لپاره له بنسټیزو بیخبنسټونو څخه دی. څرنګه چې د هوارو او ډاډمنو لارو موجودیت په یو هېواد کې د حمل او نقل د لګښتونو په ټیټوالي او د توکو او خدماتو په چټک انتقال کې ضروري ده له همدې امله په ملي او نړیواله کچه د پیسو د نقل او انتقالولو د لګښتونو د کمښت لپاره د پرمختللي، اعتماد وړ او هر اړخیزو ځایونو او بیخبنسټونو وجود هم اړین بریښي.

د افغانستان بانک د همدې اړتیا او اهمیت په پام کې نیولو سره د تیرو څو کلونو په اوږدو کې د تادیاتو نظام د منځ ته راوړلو، پراختیا، پرمختیا او عصري کولو په موخه اوچت ګامونه پورته کړي دي. په دې برخه کې د پیسو د انتقالاتو کچه په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د مرکزي بانک په مرکز او د ولایاتو په نمایندګیو کې لېږد رالېږد د موجوده بریښنایي سیستمونو له لارې وراندې کیږي.

مرکزي بانک د تادیاتو په برخه کې له SWIFT پروګرام څخه د نړیوالو انتقالاتو لپاره، AFTS پروګرام څخه د مرکزي بانک د نمایندګیو ترمنځ د تادیاتي لیږدونو لپاره او د ACSS سیستم څخه د سوداګریزو بانکونو تر منځ د انتقالاتو او د بین البانکي تصفیې او تسویې لپاره تري ګټه اخلي چې دې کار د ورکړې، تادیاتو او لیږدونو په چټکه وده کې مهم رول لوبولی دی.

## د سویفټ څانګه(نړیوالې معاملې)

د ۱۳۸۸ هجري لمریز کال په اوږدو کې ۱۱۵۲ وارده معاملې د ۲/۶۶۸/۴۵۷/۱۲۷/۳۵ ملیارده ډالرو په ارزښت او ۲۳۴۰ صادره معاملې د ۳/۵۷۰/۲۳۰/۲۴۳/۲۹ ملیارده ډالرو په ارزښت د نړیوالې تادیاتي څانګې لخوا اجرا شوي دي. د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د صادره معاملو شمېر د وارده معاملو د شمېر په پرتله په سلو کې۳۳،۷۹ وده ښکاره کوي او همدا ډول په ۱۳۸۸ کال کې د سویفټ د څانګې لخوا ۸،۸۴۸ پیغامونه لیږدول شوي دي.




(۱۹) ګراف- په ۱۳۸۸ کال کې د سویفټ د سیستم لخوا د صادره او وارده معاملو کچه (ارقام په ملیون ډالر)

## د ACSS سیستم د څانګړي لخوا د بانکونو تر منځ معاملې

د ۱۳۸۸/۱/۱ نېټې څخه تر ۱۳۸۸/۱/۲۹ پورې ۳۹،۳۰۰ افغانۍ معاملې د ۱۸۹/۷۱۷/۷۱۳/۷۱۴/۷۰ ملیارده افغانۍ په ارزښت او ۲۷۷،۸۲ ډالري معاملې د ۲/۲۹۴/۰۰۰/۰۲۱/۴۲ ملیارده ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۶۷۱۰۲ معاملې کېږي په ۱۳۸۸ کال کې د بانکونو تر منځ د تادیاتي څانګې لخوا اجرا شوي دي.




(۲۰) ګراف- په ۱۳۸۸ کال کې بین البانکي معاملې(ارقام په ملیون)




(۲۱)ګراف- د تېرو څو کلونو په اوږدو کې بین البانکي معاملات(ارقام په زرو)

## د AFTSسیستم په کارونې سره له ولایاتو څخه مرکز او بر عکس معاملات

په ټولیزه توګه په افغانۍ معاملات د ۱۳۸۸/۱/۱ نېټې څخه تر ۱۳۸۸/۱۲/۲۹ پورې ۵۴۵۹ افغانۍ معاملې د ۶۸/۲۰۸/۴۰۰/۳۰۸/۸۹ ملیارده افغانۍ په ارزښت دي او ۲۰۲ ډالري معاملې د ۳۱/۳۶۲/۴۶۰/۶۹ ملیونو ډالرو په ارزښت او په ټولیزه توګه ۵۱۵۵ افغانۍ وارده معاملې د ۶۳/۸۱۸/۰۶۶/۰۷۶/۴۴ ملیارده افغانۍ په ارزښت او ۴۳۲ ډالري معاملې د ۱۷۶/۴۲۳/۹۷۸/۴۰ ملیونو ډالرو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۶۴۴۷ معاملې کېږي د ۱۳۸۸ کال په اوږدو کې د دې سیستم له لارې اجرا شوي دي.




(۲۲) ګراف- په ۱۳۸۸ کال کې د **AFTS** سیستم لخوا د نمایندګیو ترمنځ افغانی او ډالري معاملي

## د **AFTS**سیستم په کاروني سره له ولایاتو څخه ولایاتو(له نمایندګی- نمایندګی ته) معاملات

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې د نمایندګیو تر منځ ۲۳۸۹ معاملي د ۹/۴۱۰/۲۸۵/۷۹۵/۰۰ ملیارده افغانی په ارزښت او ۲۵ ډالري معاملي د ۱/۹۶۹/۶۸۶/۰۰ ملیونو ډالرو په ارزښت د AFTS سیستم له لارې تر سره شوي دي.




(۲۳)ګراف- د نمایندګیو او ولایاتو ترمنځ معاملات

## د تلګرام خانګه

په ۱۳۸۸ هجري لمریز کال کې ۸۸ وارده معاملي د ۹۷۶/۴۷۵/۱۱۹/۰۰ افغانی په ارزښت او ۶۶ صادره معاملي د ۴۶۵/۸۴۸/۷۲۱/۰۰ افغانی په ارزښت د تلګرام لخوا تر سره شوي دي.




# مالي
# صورت حساب

بیلانس شیټ

د عوایدو صورت حساب

# مالي صورت حساب

د افغانستان بانک

بیلانس شیټ

د ۱۳۸۸ کال د کب ۲۹ نېټه (د ۲۰۱۰ کال د مارچ ۲۰ نېټه )

| شتمنی | یادداشت | 1388<br>ارقام په زر افغانی "000" | 1387<br>ارقام په زر افغانی "000"<br>تعدیل شوی |
|---|---|---|---|
| د سرو زرو زېرمې | 4 | 37,611,073 | 34,640,934 |
| د بهرنیو اسعارو نقده زېرمې | 5 | 9,364,304 | 7,044,765 |
| پر بانکونو او مالي موسساتو طلب | 6 | 92,128,701 | 119,336,317 |
| د بیلونو ټریژري | 7 | 59,823,491 | 22,877,093 |
| طلبات او نور د حصول وړ شتمنی | 8 | 100,648 | 565,337 |
| پانګه اچول شوي ملکیتونه | 9 | 4,800 | 4,800 |
| جایدادونه او تجهیزات | 10 | 4,030,361 | 2,232,316 |
| ناملموسه شتمنی | 11 | 13,073 | 19,096 |
| نورې شتمنی | 12 | 13,033,560 | 14,317,743 |
| **د شتمنیو مجموعه** | | **216,110,011** | **201,038,401** |
| د ورکړې مکلفیتونه او د پانګې سهمیه(اکویټي) | | | |
| ورکړې | | | |
| په دوران کې پیسې | 13 | 98,690,425 | 76,807,259 |
| کپیټل نوټ(ارزښتناکه اسناد) | 14 | 10,240,312 | 18,925,886 |
| د نورو بانکونو او مالي موسساتو طلبات | 15 | 25,786,246 | 31,418,196 |
| مشتریانو ته دیون | 16 | 46,924,165 | 36,238,931 |
| ورکړې ( ای . ام . اف ) | 17 | 35,511 | 35,511 |
| د متقاعدینو حقوق | 18 | 1,223,107 | 295,036 |
| موجلې اعانې | 19 | 112,272 | 160,782 |
| پرویژن او نورې ورکړې | 20 | 5,206,301 | 8,048,836 |
| **د ورکړې مجموعه** | | **188,218,339** | **171,930,437** |
| پانګه(اکویټي) | | | |
| پانګه | 21 | **(7,447,190)** | **(975,360)** |
| بیا ارزښت موندونکې زېرمې | 21 | **35,338,862** | **30,083,324** |
| متراکم زیانونه | 21 | - | - |
| **د پانګې مجموعه (اکویټي)** | | 27,891,672 | 29,107,964 |
| **د ورکړې او خالصې شتمنی مجموعه** | | **216,110,011** | **201,038,401** |

له یو څخه تر ۳۵ شمېرې پورې ضمیموې یادداشتونه د دې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي

مسعود خان موسی غازی
عمومي مالي آمر

محب الله صافی
د افغانستان بانک لومړی مرستیال

عبدالقدیر فطرت
د افغانستان بانک لوی رئیس

## د افغانستان بانک

## د عوایدو صورت حساب

د 1388 کال د کب 30 نیټه ( د 2010 د مارچ 20 نیټه)

| | یادداشت | 1388<br>ارقام په زر افغانی<br>"000" | 1387<br>ارقام په زر افغانی<br>"000" |
|---|---|---|---|
| د ټکټاني عاید | 22 | 1,061,258 | 3,074,616 |
| د ټکټاني مصارف | 23 | (1,299,032) | (2,092,091) |
| **د ټکټاني خالص عاید** | | **(237,774)** | 982,525 |
| د فیس او کمیشن عاید | | **100,306** | 140,886 |
| د فیس او کمیشن مصارف | | **(186,129)** | (18,494) |
| **د فیس او کمیشن خالص عاید** | | **(85,823)** | 122,392 |
| د بهرنیو اسعارو د تبادلې له امله ګټه/ تاوان | | **(1,141,670)** | (307,048) |
| نور عملیاتي عواید | 24 | **442,793** | 64,891 |
| | | **(698,877)** | (242,157) |
| **عملیاتي عواید/ (مصارف)** | | **(1,022,474)** | 862,760 |
| د کارکوونکو مصارف | 25 | **(1,417,591)** | (523,363) |
| د بانکنوټونو د چاپ مصارف | 26 | **(561,377)** | - |
| نور مصارف | 27 | **(112,280)** | (155,477) |
| د تنقیص شوو مامورینو مصارف | | **(112,386)** | (73,265) |
| استهلاک یا فرمایشونه | 11&10 | **(115,890)** | (58,943) |
| خالص عملیاتي عواید/ (مصارفونه) | | **(3,341,998)** | 51,712 |
| د تبادلې نرخ کې غیر حقیقي ګټه او تاوان | 21.4.2 | **(5,068,432)** | (10,170,378) |
| **کلنی تاوان** | | **(8,410,430)** | (10,118,666) |

له یو څخه تر ۳۵ شمېرې پورې ضمیموي یادداشتونه د دې مالي صورت حساب بنسټیزې برخې جوړوي

| | | |
|---|---|---|
| **مسعود خان موسی غازی** | **محب الله صافی** | **عبدالقدیر فطرت** |
| **عمومي مالي آمر** | **د افغانستان بانک لومړی مرستیال** | **د افغانستان بانک لوی رئیس** |



# اداره

# او

# پراختیا

د حقوقي مشاوريت دفتر

د بشري منابع عمومي آمريت

د خدماتو عمومي مديريت

# اداره او پراختيا

## د حقوقي مشاوريت دفتر

۱- د جمهوري رياست د محترم مقام د ۱۳۸۸ د غبرګولي د ۱۸ نېټې د ۵۷ ګڼې فرمان له مخې په بانکي معاملاتو کې د غير منقولو اموالو د رهن قانون توشيح

۲- د جمهوري رياست د محترم مقام د ۱۳۸۸ د غبرګولي د ۱۰ نېټې د۵۰ ګڼې فرمان پر بنسټ په بانکي معاملاتو کې د منقولو اموالو د رهن د قانون توشيح

۳- د ولسي جرګې د اقتصاد د کميسيون د څېړنې لومړۍ ناستې ته د معاملاتو ور اسنادو د قانون وړاندې کول

۴- د ولسي جرګې د اقتصاد کميسيون ته د اجارې د قانون وړاندې کول

۵- د ولسي جرګې د مالي او بودجې کميسيون ته د افغان اماناتو د بيمې د بانکدارۍ قانون د (۱) ګڼې ضميمې د طرحې وړاندې کول

۶- د اسلامي بانکدارۍ قانون د مسودې طرحه

۷- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۴/۹/۱۳۸۸ نېټې د ۴۴ ګڼې تصويب پر بنسټ د پولي خدماتو د چمتو کوونکو په مقررې کې د تعديلاتو منظوري

۸- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۴/۹/۱۳۸۸ نېټې د ۴۱ ګڼې تصويب په اساس د Secured Transaction د مقررې منظوري

۹- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۴/۹/۱۳۸۸ نېټې د ۴۰ ګڼې تصويب پر بنسټ د رهن د مسودې د مقررې منظوري

۱۰- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۱/۱۲/۱۳۸۸ نېټې د ۴۸ ګڼې تصويب پر اساس د Clearing House د مقررې منظوري

۱۱- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۱۱/۱۲/۱۳۸۸ نېټې د ۴۷ ګڼې تصويب پر بنسټ د Regulation on Afghanistan Domestic Payment Operation د مقررې منظوري

همدا ډول دا دفتر د افغانستان بانک د لېد لورې او اړتياوو په پام کې نيولو سره د يو بشپړ ډاډمن او خوندي چاپيريال د جوړولو او د افغانستان په مالي نظام کې د کورنى او بهرنى خصوصي پانګې اچونې د لا هڅونې او د اعتماد د جلبولو په موخه د اوسني عصر د غوښتنو او د هېواد د اقتصادي ودې د لوړولو سره په پام کې لرلې تر څو د يو لړ نورو لاسته راوړنو سره سم د افغانستان بانک د پنځه کلنې کړنلارې په اړانه کې هم شامل شي چې د قوانينو طرح او نوي مقررات او په قوانينو او مقرراتو کې تعديلات، د بېلګې په توګه د افغانستان بانک په قانون او د بانکدارۍ په قانون کې تعديلات، Credit Reporting د مقررې طرحه او د معاملو ور اسنادو د قانون نهايي کېدل او داسې نور د نوموړي دفتر د راتلونکي برنامو له جملې څخه دي.

## د بشري منابع عمومي آمريت

**د استراتيژي او پلان ګذاري مديريت په برخه کې:**

**د مقررېدو په برخه کې:** په مرکزي بانک کې د اړتياوو په پام کې نيولو سره ۱۱۴ تنه کارکوونکي د ازادي سيالى له لارې له تحريري ازموينې، شارټ لست او انټرويو څخه وروسته په مختلفو برخو کې مقرر شوي دي.

**ريفورم:** په اوو زونونو کې د تشکيلاتي ريفورم تطبيق او د ګريډ پر اساس د کارکوونکو د معاشونو يو شان والی.

**تنقيص:** د تشکيلاتي ريفورم د تطبيق پر اساس د اوو زونونو په کچه ۲۳۵ تنه کارکوونکي په ټاکلي امتياز سره تنقيص ته وړاندې شوي دي.

**په ولسواليو کې د بانک د نمايندګيو لمنځه وړل:** د افغانستان بانک ۱۶ نمايندګۍ چې په ولسواليو کې يې فعاليت کاوه، د بانک له عمومي تشکيل څخه لرې او د بانکي خدماتو د وړاندې

کولو په موخه يې د دوو ولسواليو نمايندګۍ ميوند بانک، دوه ولسوالۍ عضنفر بانک، درې ولسوالۍ عزيزي بانک، شپږ ولسوالۍ کابل بانک، يو ولسوالۍ افغان ملي بانک، يو ولسوالۍ (FMFB) يا First Micro Finance Bank او يو ولسوالۍ يې (AUB) افغان يو نايټډ بانک ته پريښودلې دي.

**د نوو ډيپارټمنټونو جوړول:** د مالي څارنې د عمومي مديريت په تشکيل کې د اسلامي بانکدارۍ برخه او د اندخوۍ د بانک نمايندګۍ له تشکيله لرې او په بدل کې يې د آقينه بندر نمايندګۍ په (D) کټګورۍ کې د ۱۲ تنو تشکيل سره منځ ته راغلې ده.

**د تضمين په برخه کې:** د خزانه دارانو، د خزاندارانو د مرستيالانو او د مرکز، ولاياتو او ښاري څانګو د صرافانو د جايداد(ملکيت تضمين ، د سر ضمانت او د تحصيلي اسنادو٪۹۰ بشپړول.

**انفکاک:** ۴۵ تنه کارکوونکي د مرکزي بانک څخه د مختلفو عواملو په پام کې نيولو سره منفک شوي دي.

**د مرکزي بانک تشکيل:** د افغانستان بانک د منظور شوي تشکيل د اصل له مخې ۱۹۰۶ تنه کارکوونکي ؤ چې په ۱۳۸۸ کال کې يې د موجوده کارکوونکو شمېر ۱۴۴۸ تنو ته رسيږي.

**د زده کړې د مرکز په برخه کې:**

په جريان کې زده کړې،د کارکوونکو شمېر ۴۱ تنه.

بشپړ شوې زده کړې، د کارکوونکو شمېر ۱۵۶ تنه.

**د هيواد په داخل کې زده کړې:**

۱۱ پروګرامونه بشپړ شوي او ۳ برنامې يې د انګليسي ژبې، اداري او کمپيوټر په برخو کې جريان لري.

**خصوصي پروګرامونه:**

۳۱ برنامې د ۵۶ تنو په کميت سره بشپړ شوي او ۲ برنامې په جريان کې دي چې ۳۲ تنه پکې په زده کړه بوخت دي.

**عملي (پرکټيکه) دوره:**

پنځه برنامې چې پکې ۶۴ تنو ګډون کړی ؤ، په ۳۱ ورځو کې بشپړې شوې.

**له هيواد څخه بهر زده کړې:**

۱۶۶ تنو کارکوونکو د ۷۲ برنامو په ترڅ کې د هانګ کانګ، کمبوديا، سويټزرلينډ، راوندا، بنګله ديش، فليپين، سوريه، هندوستان، پاکستان، ماليزيا، ترکيه، امارات متحدهٔ عربی، قزاقستان، جرمني او نيپال په هيوادو کې او د سنګاپور، لبنان او امريکا د ای ايم ايف په انسټيټونو کې زده کړې کړي دي.

## د خدماتو عمومي مديريت

د افغانستان بانک روغتيايي کلينيک په ۱۳۸۸ هجري لمريز کال کې د مرکزي بانک ۶۵۵۳ کارکوونکي او د هغوی د کورنۍ غړي معاينه، درمل او پانسمان کړي دي او په دې برخه کې يې ۲۵۲ قلمه درمل په ۴۳۵۳۶۱ افغانۍ او د روغتيايي کلينيک د اړتيا وړ څه اندازه طبي سامان الات چې ټوليز قيمت يې ۷۱۱۴۰ افغانۍ کيږي د مرکزي بانک د ناروغه کارکوونکو د درمل لپاره پيرودل شوي دي.

د خدماتو عمومي مديريت د افغانستان بانک د نمايندګيو د ودانيو د جوړولو په برخه کې په ۱۳۸۸ کال کې د باميان، ميمنه، حيرتان، کنړونه، تورخم او پنجشير د نمايندګيو ودانۍ جوړې او يو شمېر نورې نمايندګۍ يې بيا رغولي او په ځينو ولاياتو کې يې د نمايندګيو احاطې جوړې کړې دي.








حل کمیسیون د پرانیستلو مراسم
Inauguration Ceremony of Financial Disputes Resolution
Tuesday, October 20, 2009












د افغانستان بانک
مدیریت عمومی بانک پنجشیر


ابدهی حکومت به ملت
The Fourth Round of
۱۳۸۸













